هفته نامه

دجهاد هنداره

مراة الجهاد

لومړي کال ، (۳۱) گڼه دوشنبه د ۱۳۷۰ کال دحمل (۱۲)

خوست فتحه شو



PROPERTY OF ACKU

میرانشاه دحمل ۱۱ :
الحمد لله خوست دمجاهدینو دکفر ځپونکو گوزارونو په نتیجه کې دخوست دنوي هوايي ډگر اولښکرکوټ په نیولو سره په بشپړه توگه فتحه شو.

له خوست نه دالحاج مولوي جلا ل الدین حقاني له جبهاتو څخه دمخابرې له لارې په رارسیدلو خبرونو کې ویل شوي دي چې خوست په بشپړه توگه دقهرمانو مجاهدینو په لاس فتحه شو.

په رارسیدلو خبرونو کې ویل شوي دي چې مجاهدینو له تیرو دوو اونیو راهیسې پرخوست دراانده اویو مخیز عملیات پیل کړي اودیوې اونۍ په اوږدو کې یې دشاوخوا ټولې پوستې او پوځي قرارگاوې فتحه کړي، مجاهدینو ته دماتې خوړلي دښمن دپوځونو اوملیشاوو دتسلیمیدو لړۍ روانه وه. مجاهدینو په ډیر لږ وخت کې دخوست شاوخوا ټولې ستراتیژیکې اوسوق الجیشي پوستې اوسیمې ترخپل کنټرول لاندې راوستلې .

دخوست دزاړه هوايي ډگر په فتحه کیدو سره دمجاهدینو وړاندې تگ نوره هم چټکتیا وموندله اوپدې ډول دښمن له بشپړې محاصرې سره مخامخ شو. دکابل مزدور رژیم له هوايي لارې دمجاهدینو پرسنگرونو سختې بمبارۍ پیل کړې او دسکډ توغندیو ویشتلو ته یې شدت ورکړ چې نژدې په یوه ورځ کې ۳۵ سکډ توغندۍ دمجاهدینو پر سنگرونو ویشتل شوي دي .

خودخدای (ج) په فضل مجاهدینو ته یې کوم دراانده تلفات وانهړولی شول .

پرون الحاج مولوي جلال الدین حقاني اعلان کړه چې پر خوست دجگړې ټول اهداف ترلاسه شوي اومجاهدین دپرله پسې فتوحاتو له امله دخوست دبشپړې فتحې درشل ته رسیدلي دي .

په خبرونو کې ویل شوي دي چې دجگړې په جریان کې مجاهدینو ددښمن گڼې جیټ اوهلیکوپترالوتکې راغورځولي اوډیر ټانکونه اونقلیه وسیلې اومهمات یې په غنمیت نیولي دي .

په خبرونو کې ویل شویدي چې دالحاج مولوي جلا ل الدین حقاني په هدایت دوه ورځې دخوست دعامو اوولسي وگړو دتلفاتو دمخنیوي په خاطر دجگړې شدت کم کړی شو اوپه خوست کې استوگنو ولسي وگړو ته اعلان وشو چې دخوست له ښار څخه ووځي هماغه ؤ چې دخوست له ښار څخه داستوگنو لیږد پیل شو. دمحترم حقاني صاحب دهدایت له مخې دهجرت کوونکو دانتقال له پاره نقلیه وسیلې اوپه میرانشاه کې داوسیدو اوخوراك بندو بست اوترتیبات نیول شوي وو له همدې امکاناتو څخه په استفادې سره دخوست له کلابند ښارڅخه په سلگونو کورنۍ میرانشاه ته انتقال شوې .

ددغو دوو ورځو په تیریدو دمجاهدینو وروستي یو مخیز اودراانده عملیات پیل شوې چې دهغې په نتیجه کې دالله تعالی په فضل دروان کال دحمل دمیاشتې په ۱۱ نیټه دمازدیگر په څلوروبجو اوپنځلس دقیقو په بشپړه توگه خوست فتحه شو او (۱۰۰۰) تنه صاحبمنصبان- څلورم مخ

دخوست د فتحې په مناسبت په پیښور کې د الحاج مولوی جلال الدین «حقانی» نمایندگۍ ته دمبارکۍ پیغامونه

٤ مخ

دخوست دفتحي په مناسبت فوق العاده گڼه

دخوست ویاړمنه اوقهرمانانه فتحه خپل مجاهد ولس ته مبارکه اویه هیواد کې داسلامي حکومت دقیام په دعا بختوره غواړو

دجهاد هنداره

مؤسس : الحاج مولانا جلال الدین حقاني

دتأسیس کال : ۱۳٦۹ هـ ش

دخوست فتحه یا دمجاهدینو دوحدت لومړی ثمره

کله چې په ۱۳٦۷ هـ ش کال کې دافغاني مجاهدینو دایمان اوقربانیوپه زور روسي وحشي پوځونه تیښتې ته مجبورشول دافغانستان دمسلې په اړوند دنړۍ ټولو خودغرضه قوتونو تگ لارو هم بدلون پیداکړ اوکله چیرې ددغو خارجي قوتونو ډول ډ ول دسیسې اوپه نظامي لحاظ دمجاهدینو دبریالیتوب ضد پلانونو په عملي کولو پیل نه وای کړای دروسانو مزدور رژیم به دڅو میاشتو په تیریدو سره سقوط کړای وای. په داسې حال کې چې دکابل مزدور رژیم سره دروسانو نظامي اواقتصادي مرستو بې ساری شدت کسب کړ اماپه مقابل کې دمجاهدینو سره دهغوی پلوی قوتونو مرستې دیوې ورځې څخه بلې ته کمې اودمجاهدینو په منځ کې دنفاق تخم وشندل شو .

ددې بهیر څخه دکابل مزدور رژیم په بده سیاسی گټه اخستلو اوتبلیغ پیل وکړ او نړیوالو اودافغانستان ولس ته یې داسې څرگندوله چې گنې دکابل مزدور رژیم دخپلو متو په زور ژوند کوي اوپه رښتیا چې دیوشمیر اشخاصو افکار یې خپل ځان ته جلب اودمجاهدینو په ستر ځواك باندې اعتماد ته صدمه ورسیده نوځکه دغه دغمه ډك بن بست باید دمجاهدینو په گټه مات شوای وای اولکه چې مات هم شو .

څوورځې مخکې په خوست کې دمزدور رژیم په نظامي مرکزونو باندې دبریمنو مجاهدینو لخوا دڅلور خواؤڅخه شدید برید پیل شو اوداداسې برید اویرغل ؤ چې دنړیوالو مخ یې په خلیج کې دصحرا توپان څخه په خوست کې جهادي توپان ته راواړاوه اوپه هرساعت اوهره ورځ یې دکابل مزدور رژیم قواؤ ته بې ساري گوزارونه ورکړل اوترهغو پورې په مخ ورتلل ترڅو چې یې بشپړه فتحه په نصیب اوپه خوست کې دمزدور رژیم قواؤ اخیرني مقاومت ځایونه یې دړې وړې کړل .

هوکې په ۱۳۷۰ هـ ش کال دحمل په ۱۱نیټه دمازدیگر په څلور نیمو بجو دخوست په ټوله منطقه کې دافغانی مجاهدینو دپت اوعزت جنډې پورته او رپانده شوې اویو ځل بیا دغه دزمرو خاوره دهغوي رښتینو څښتنانو (مجاهدینو) ته په لاس ورغله .

دخوست فتحه به دافغانستان مسلې سیاسي اونظامي نقشه بدله اودمجاهدینو الهي قوت یو ځل بیا دنړیوالو په مقابل کې دیوه نه انکارکیدونکي پدیدې په توگه څرگند شو اوپه رښتیا چې دالویه فتحه به دمجاهدینو جهادي مورال پیاوړی اودمزدور رژیم قواو مات شوي زړونه به لانور ټوټې اوضعیف کړی اولیرې نده چې دکابل ښار به هم دمجاهدینو په ایمانی زور سره فتحه اوپه دغه دغیرتونو خاوره به داسلام اوخپلواکۍ بیرغ دنازرپیدل پیل کړي .

ویاړ دهغو شهیدانو په روحونو باندې چې دخوست په فتحه کې یې خپلې ځوانۍ دالله (ج) په نوم قربان کړې.

دمسکو خواران

له بهرنیو منابعو څخه

دشکور محمد ژباړه

هسی خوځوخت په تیریدو سره ټول هغه شیان چې دروسیې حکومت به دنړیوالو له نظره پټ ټول په ورو ورو راڅرگندیږي دسوالگرولاسنیول دیو کپیك روسی پیسی لپاره ، دسرپناه دنه لرلو له امله داورگاډو په تم ځایونو کی بیده کیدل اویا دتنظیفاتو په بیرل کی غورځول شوو فاضله موادو پلټنه داټول هغه مسایل دی چې دروسیې حکومت تل دبهرنیو له نظره پټ ساتلی وو خواوس حکومت ته هم له ډیری مایوسۍ نه وروسته نوردحقایقو پټول گران ښکاري او همدارنگه دحکومت دیوی احصائیی له مخی تقریباً ۷۱ میلونه روسان په میاشت کی له سلو روبلو څخه چی ٦۰ ډالره ورځنی جوړیږي، زیات نه شی گټلی ، ولادیمیر والوف هره ورځ دلکشا ښارگوټی ته چې دمسکو په شمال کی پروت دی ځی اودتنظیفاتو بیرلونه لټوی نوموړی وایی چی دلته غوښه او ساسج پیداکیږی خوکله ناکله هرڅوك چی دلته راځی هرڅه ورته پاك ښکاری سره له دی چی والوف په نری رنځ اخته دی خوبیاهم یوه خوابله خوا دنیم سوخته سگرټو په لټه کی ؤ او ویل یې چی که له ماسره یو روبل نه وی نو زه به څنگه یوه قطعی سگرټ واخستلی شم ؟متقاعده کلاودیاپا پواچی په یوه مشترك اپارتمان کی اوسیږی اودتیر اوړی ټول سبزیجات یې څه داچارپه شکل اوڅه په نورو مختلفو شکلونو دژمی لپاره ذخیره کړی وی نوځوی ورته کله ناکله دغوښی کباب راوړی خودااکثره دکوچو، ساندو یچو، خو تکول شوو الوگانو اوله چایو سره ډوډۍ خوری . پداسی حال کی چی خپل زوړاوتارتار کوټ یې په اوږو سماوه نوویې ویل :

دنیم چارك غوښی بیه پوره ۳۵ روبله ده ، دغوښی خوړل دعیاشانو کاردی سره ددی چی زه دغوښی داخیستویو څه ناځه توان لرم خوبیا هم ځان ددی وړنه گنم چی غوښه وخورم ، پکارده چی له خپلی شړی سره پښی وغزوم .

دکیوسکی دریل گاډو په تم ځای کی دوو تنو دوبرو دسکرو ښښتی خرڅولی چی په ازاده توگه پیسی وگټی اوهمدارنگه نن سبا دمسکو دریل گاډو دټولو تمځایوڅخه دگرځنده مسافرو کوروته جوړشوی دی هغه مسافر چی په قانونی توگه په مسکو کی داوسیدو اجازه نه لری اوبل کوم داسی ځای هم نشته چی شپه پکی سبا کړی مجبوردی چی همدغو تمځایونو ته پناه وروړی ، دکورسك په تمځای کی لرترلره سل تنه دشپی دتیرولو په غرض دکاغذو په خوسا اوگنده ټوکرو پراته وه .

خودټولو خلکو پام اوتوجه دهغی ښځی چیغو اونارو ته گرځیدلی ؤ ، چی خاوند اوشپږ ماشومان یې هم ورسره نږدی پراته وو .

هغې ویل موږ څو ورځی پخوا له بایکوف څخه راغلی یو چی په مرکز کی به دخوړلو لپاره څه ناڅه پیداشی حال داچی دلته هم څه نشته ، په روسیه کی ژوند کول ډیر گران دی .

اوپه اخره کی یې له خبریالانو څخه وغوښتل چی لومړی زموږ حال نړیوالو ته ښکاره کړی اوبیا دگورباچوف عزت اودرناوی !

وادیم شیلوف چی دسایبریا له مرستون څخه راتښتیدلی دی او دلته له کریملین څخه لرلری په خیمه کی له نورو کډوالو سره اوسیږی وایی چی زه مسکو ته دانصاف غوښتلو په غرض راغلی یم خوزه خبر نه وم چی دلته هم انصاف نشته .

هغه زیاته کړه چی دیتیمی له ژونده دلته هم بیزاره دی ځکه چی نه دخوراك لپاره څه وی اونه داغوستو لپاره ماشومان کرۍ ورځ دپنځو روبلو لپاره درانده کارونه کوی .

هغه له پولیسو څخه دشکایت په هکله وویل هغه تیره ورځ یې زموږ دټولو خیمی ورانی کړی وی که حکومت زموږ لپاره داوسیدو کوروته نه شی جوړولی نو بیا موږپه خیمو کی ولی نه پریږدی ؟

په داسی حال کی چی پرمخ یې رنې رنې اوښکی راروانی وی ویل یې چی ماته دی زما خپله لږه غوندی ځمکه راکړی اوبیا به زه په عمل کی جوته کړم چی زه څه څه نه شم کولی .

دمبارزی اوانقلاب څوارلسم پسرلی

رحیمزی

دادی یوځل بیا پسرلی راغی ، پسرلی له خپلو ښکلاؤ اونو ښتونوسره پرموږ راغبرگ شو !

پسرلی راغی او دژمی سوړ تهغر یې دځمکی له مخ نه ټول کړ ، او غرونه رغونه یې په شنو او سرو گلانو ښایسته کړل !

پسرلی راغی او موږ دخپل ژوندانه یوه بله پاڼه واړوله او دخپل خواږه عمر څخه مو یو بل کال هم شاته پریښود ! پسرلی بیا راغی او دهغی په راتگ زموږ داوږدی مبارزی او انقلاب پوره دیارلس کاله پای ته ورسیدل او دوینی او شهادت څوارلسم پسرلی ته مو پښه کیښوده !

هوکی ! زموږ پر مسلمان او په وینو کی لت پت ولس با ندی دقربانی او فداکاری څوارلسم پسرلی پداسی حال کی راغبرگ شو چی دخپلی نه ستړی کیدونکی مبارزی دیارلس پسرلی یې دخپلو سرو وینو په رنگینه کرښه دنړیوال پیښو په تاریخ کی په زرینو ټکو ثبت کړی دی دیارلس کاله دخپل هدف ، اودملت اووطن دعزت او سرلوړی په لارکی مبارزه څه وړه خبره نده ! اودا یوازی

> دیارلس کاله دخپل هدف اودملت اووطن دعزت اوسرلوړي په لارکي مبارزه څه وړه خبره نده ! اودا یوازي دهغه ملتونو تروسي پوره ده چې خپل دین ، خپله خاوره اوخپل ناموس ورباندي گران وي

دهغه ملتونو تروس پوره ده چې خپل دین خپله خاوره او خپل ناموس ورباندی گران وی ! زموږ گړیدلی ملت ددی دیارلس کلونو په اوږده موده کی دهیڅ ډول قربانی او سرښندنی څخه ډډه ونکړه او دهمدی قربانیو او له سرنه تیریدنی نتیجه وه چی روسی وحشی یرغلگر یې له خپلی خاوری څخه په شا تگ ته اړ کړل ، او دنړیوال کمونیزم نه ماتیدونکی بت یې ونړاوه ! ددی دیارلس کلونو په موده کی تاړاکگرو پوځونو او دهغوی پست همته نوکرانو ددی ولس هرکور ونړاوه ، هره ودانی یې ویجاړه کړه او هر ژوندی وگړی یې چی په گوتو ورغی ، ترتیغ تیرکړ ! خوزموږ مبارزاویاایمانه ولس په پوره صبر اوکامل متانت سره دغه دیارلس پسرلی تیرکړل خپل یو نیم میلیون وگړی یې قربانۍ ته ورکړل ، ولی دذلت او غلامۍ زنځیرونه یې پښوته نکړل ، او دوطن باغ اوبڼ یې په خپلو وینو خړوب وساته !

هوکی : زموږ دانقلاب څوارلسم پسرلی پرموږ راغبرگ شو، موږ دتیرو دیارلسو کلونو په موده کی ډیرڅه وکړل ، او ډیر څه موترلاسه کړل ! زموږ مؤمنو مجاهدینو وکولای شول چی یرغلگر پوځونه درسوا ماتی سره په شاتگ ته مجبور کړی او دسور استعمار لاندی هیوادوته یې دایثار او قربانی په قیمت آزادی دگټلو درس ورکړی خو متأسفانه ددی سره سره موږ ونشوای کولای دروسی پوځونو تر وتلو دوه کاله وروسته هم دنجیب مزدور رژیم نسکور کړو !

په تیرو دیارلس کلونو کی موږ وکولای شول دروسی پوځ او وروسته بیاد هغوی دمزدور رژیم له قبضی څخه ډیری سیمی ، ولسوالۍ او علاقداری آزادی کړو ، خو متأسفانه موږونشوای کولای خپل صفونه متحد کړو ! یوه

په دریم مخ

عبدالوکیل

په افغانستان کې دکې ، جي ، بي ورانوونکي فعالیتونه

شپږمه برخه :

داکسا -کام - خاد - واد ، تشکیلات ، فعالیتونه اوجنایات

نوی نسل به په هغه صورت کې وکولی شي چې دافغانستان مسلمان ولس په حرکت راولي اوبیا به دمحمد ظاهر امیبایي اقتصادي خوځښت تړښنو لاندې اودسیلابونو په شان به داسلام تربیرغ لاندې سیاسي ، اقتصادي ، اوکلتوري غورځنګونه پیل شي .

۲ :- اقتصادي وروسته پاتې والی او دبیروګراسی شدت :

دیوې خوا خو دانوي ځوانان چې دنوبو ساینسي اوټولنیزو علومو سره یې څه ناڅه اشنایي پیداکړې وه اواقتصادي فشارې په مستقیم ډول سره په خپل وجودکې احساساوه اودبلې خوا دمحمد ظاهردولتي بیروکراسي ددغو ټولو رنځونو دموجودیت دعواملو دیوه اساسی اوتحریک کوونکي عامل په بڼه ځرګندیده توځکه یې ځوانان دګړندي بدلون اوفاجعې په لوري ورکش کړل .

۳ : انارشي :

په ښوونځیو ، پوهنتونونو اولیلیو کې انارشي اوخپل سري دې حد ته رسیدلې وه چې دزده کوونکو اومحصلینو ګروپی اوانفرادي کړو وړو استاذان اوښوونکي تر بدې اغیزې لاندې راوستلي ؤ اوددولتي لوړو ارګانونو له خوا داستادانو اوښوونکو هغه حقوق اوصلاحیتونه چې دوخت قوانینو له خوا په نامکمل ډول سره ورکړل شوي ؤ ، دفاع اوحمایت نه کیده اویو شمیر ضعیف النفسه اوپرځان نامتکي اوبې همته زده کوونکي اومحصلین دخلق اوپرچم دبې دینه اووطن پلورونکو ډلودډول ډول فشارونو په وجه ددوی څخه دفاع پیل او دهغوی غوښتوب یې قبول کړ خو هغوی چې ددې مصیبت راوړونکي وضعې دمثبت تغیر امکانات ورسره موجود ؤ لازم اقدامات ترسره نکړل.

په ۱۳۵۰ هـ ش کال کې دافغانستان پخوانی پاچا محمد ظاهردپکتیا ولایت مرکزګردیز په هوایي ډګر کې دهلیکوپترڅخه راښکته شواودګردیز ښاردهغوښاریانوزده کوونکو اومامورینو په مخ کې یې پلی حرکت پیل کړ کوم چې دده دهرکلي لپاره راوستل شوي ؤ په دې وخت کې دعبدالحی ګردیزی لیلیې یوشمیر زده کوونکو لخوا په هغو کاڼو (سنګ چیل) وویشتل شو کوم چې دګلپانوسره یې ګډ کړی ؤ. محمد ظاهرچې دیوې خوایې سر لوڅ ؤ اودبلې خوایې ویښتان نه درلودل خپل لاسونه پخپل سرکیښودل خوبیا هم چاره ونشوه لږڅه وروسته هغه جنرال چې په څنګ کې ورسره روان ؤ خپله خولۍ دده پرسر ورکیښوده اوپه ګړندیتوب سره یې بیرته هلیکوپترته ځان ورساوه اوکابل ته ولاړ. ددغی پیښی څخه وروسته بیا دمحمد ظاهر دپاچاهی ترنسکوریدو پورې خلقیانو اوپرچمیانو دګردیزښار په ښارکې د مظاهرې په رابطه جرئت له لاسه ورکړ.ددې ځرګندونې څخه مطللب دادی چې محمد ظاهرداسې امکانات درلودل چې په افغانستان کې د«کی ، جی ، بی»ښبښې نه یوازې داچې زغولو ته نه وای پریښودلې بلکه باید لنډې اوقطع کړې یې وای اونوموړې انارشي په ماهیت اوحقیقت کې ددیکتاتوری،زوراوجبر بل شکل ؤ چې په نتیجه کې یې ناوړه عواقب پرځای پریښودل.

دمجاهدینو لومړنی ټانک دخوست هوایی ډګر په لور دپرمختګ په حال

۴ :- دځوانانو دعلمي اوشعوري سطحې ټیټ والی بل هغه عامل ؤ چې په ډیره اسانۍ سره بدې لارې ته منحرف کیدای شول اودساینسي اوټولنیزو علومو څخه یې یوازې هغومره زده کړې ؤ چې دمنحرف کیدولپاره بښه تیارشوي ؤ .

۵ :- دروس فارغ التحصلانو اوپه روس کې دافغاني محصلینو (په کال کې به یو یا دوه واری په رخصتی راتلل) شعوري اوغیر شعوري تبلیغ اودکمونیزم خیالي افسانو اودحیوانیت جنسی اړیکو بیان دافغاني ځوانانو په روحیه کې منفی بدلونونه رامنځ ته کړل اودخلق اوپرچم ډلو کې شامل کیدل یې دنوموړو افسانو اوواقعیتونو (دحیوانیت جنسی اړیکی) عملي کیدل بهترینه لارؤبلله.

۶ :- دلیلیو په بڼه دیو شمیر زده کوونکو اومحصلینو ژوند :

سره له دې چې دلیلیو په بڼه دزده کوونکو اومحصلینو ژوند دنیکو او عالي خصلتونو اونظریاتو دکسب په اړوند مناسب چاپیریال کیدای شي اما دهغو خاصو شرایطو په وجه چې موجودؤ دپرچم اوخلق ډلو دفعالیت ، جلب اوجذب لپاره یی په زړه پورې شرایط برابر کړي ؤ .

۷ :- دغه ډلې دسن اوجنس داختلاف اوپه غیر اخلاقي توګه دسازمان ورکولو په اساس دیو شمیر ځوانانو لپاره دسرګرمی اوماتورې مبارزې سازمانونه وګرځیدل اونوموړې ډلې یې دکمیت په لحاظ تقویه کړلې . نوربیا

دمبارزی اوانقلاب څوارلسم پسرلی ...

واحده جهادی اداره جوړه کړو، او دخپل منځی شخړو له پیغورڅخه ځان وژغورو! دادی پسرلی یو ځل بیا راغی ! اوموږ دجهاد او مبارزی څوارلسم کال پداسی حال کی پیل کړ چی په وینو لړلی افغانستان له ګوټ ګوټ نه دمزدور رژیم دماتی او دجهادی قوتونو دنویو بریو خبرونه رارسیږی

دپسرلی له راتګ سره جوخت دخوست دکلابند شوی ښار په لور دمتحده جهادی قوتونو دبرچه ډك پرمختګ زیری رارسیږی او دمزدور رژیم هغه چیغی او فریادونه اوریدل کیږی چی تل یی دشکست اوماتی په وخت کوی ! نن چی افغانستان دقهرمان ولس دشجاعانه قیام اومقاومت څوارلسم پسرلی استقبالوو ، ترڅنګ یې دخوست دبشپړې فتحې زیری چې دجهادي ځواکونو دسرښندنو اوشهادتونو نتیجه ده دهیواد ټولو متدینو اونومیالیو خلکو ته مبارك غواړو .

لکه څنګه چې دخوست دفتحې برې دګډو عملیاتو ، اتحاد ، اتفاق اویووالي په نتیجه کې ترلاسه شوه دهیواد له ټولو جهادي قوتونو څخه هیله کوو چې په واحده ، قاطع اوماتوونکي ګوزارسره دنجیب مزدور رژیم رانسکور کړی او پدی توګه دڅه دپاسه یونیم میلیون شهیدانو او دهغه کونډو ، رنډو ، او یتیمانو چی دپاکستان اوایران دمهاجرت په کمپونو کی ،په آزاد او اسلامی افغانستان کی دآزادی دنیکمرغه پسرلی دراتلو په هیله شپی سباکوی ، دغه یوازینی ارمان پوره کړو ! نن چی زموږ دجهاد اومبارزی څخه دیارلس پسرلی تیریږی ، بیاهم زموږ دمظلوم او کړیدلی ملت پسرلی لاندی رارسیدلی !

زموږ درنځیدلی ملت پسرلی به هغه وخت راشی چی دافغانستان ازاد او په دغه په وینو سره هیواد کی زموږ دمیلیونونو ، خورو ورو هیواد والو په خوښه یو آزاداو اسلامی حکومت جوړشی .

دکابل ګوډاګي رژیم له اقتصادي ستونزو سره مخ دي

دمجاهدینو خبرچینو رپوټ ورکړیدي چي دنجیب رژیم داقتصادي ستونزو درامنځته کیدو له امله دخواجه رواش دهوایي غنډ دصاحب منصبانو امتیازي معاشونه چي دنورو صاحب منصبانو په پرتله په ورځ کې ۴۰۰ افغاني زیاتي وي له منځه وړیدي .

په یوه بل رپوټ کي راغلي دي چي دبګرام د۲۲ غنډ قوماندان پدي تورچي دتني سره یي اړیکي درلودي له دندي څخه ګوښه شویدي .

دخوست دفتحې په مناسبت په پېښور کې دالحاج مولوي جلا ل الدين حقاني نمايندگي ته دمبارکۍ پيغامونه

دخوست دفتحې دخبر سره جوخت په پيښور کې دالحاج مولوي جلا ل الدين حقاني نمايندگي ته دجهادي مشرانو - قوماندانانو - قومي مشرانو - پاکستاني پوهانو اومذهبي حلقو اوهمدارنگه داسلامي اودوستو هيوادو سفارتخانو او قونسلگريو له خوا دمبارکۍ دتلگرامونو اوتيليفونونو لړۍ روانه ده .

دمبارکۍ پدغو پيغامونو کې دالحاج مولوي جلا ل الدين حقاني تر مدبرانه قيادت لاندې دخوست دقهرمانانه او وياړمنې فتحې په باب دمبارکۍ مراتب اوخوښۍ څرگندونه شوې .

همدارنگه داسلامي هيوادو سفارتخانو اوقونسلگريو دتيليفونونو له لارې دخوست پرفتحه دخوشحالۍ څرگندونه کړې اوالحاج جلال الدين حقاني اودافغانستان مسلمان ملت ته يې مبارکي ويلې .

همدارنگه ددوستو اوازادو هيوادو سفارتخانو او قونسلگريو څخه هم دمبارکۍ پيغامونه رسيدلي دي .

دافغاني مشرانو - قوماندانانو - پوهانو اومخوروله خوا هم دخوست دفتحې په هکله دحقاني صاحب دپيښور نمايندگي ته دمبارکۍ پيغامونه رارسيږي .

دافغانستان داسلامي دولت مشر محترم صبغت الله مجددي ، دائتلاف شورا ، نهضت اسلام ، شورای اتفاق ، قوماندان الحاج عبدالحق ، قاضي محمد امين وردگ له کويټې څخه قوماندان محمد يونس ، دقوماندان احمد شاه مسعود نماينده محمد يونس قانوني،له ابوظبې څخه مولوي غازي مرجان اوله لاهور څخه ډاکټراحسان الله دتيلفونوله لارې دخپلې مبارکۍ مراتب څرگندکړي دي .

همدارنگه فرهنگي دفتر اودنمايندگيو دفتر ته دتيلفونولړۍ روانه ده اودبيلا بيلو نشراتي اومرستندويه مؤسسو له خوا دخوست دفتحې په اړه دخبرونو ترلاسه کولو ترڅنگ دخپلې خوښۍ اومبارکۍ مراتب هم څرگندوي .

دهيئت تحرير ترنظر لاندې

مکاتباتي پته

پوست بکس (۱۰۳۳)

يونيورسټي ټاون پيښور

تيلفون : ... (٤١٧٤٦)

خوست فتحه شو ...

اوپوځيان دمجاهدينو امنيتي سيمې ته راوړل شوي او(۵۰۰) پوځي زخميان مجاهدينو خپلو روغتونو ته ليږدولي دي .

په رارسيدلو خبرونو کې ويل شوي دي چې درژيم پوځيان اومليشيان چې مجاهدينو نيولي هغوی دمجاهدينو مرکزونو ته نقل شوي اوزخميان دعلاج اوتداوۍ له پاره مربوطوروغتونونو ته رسول شويدي . همدارنگه په خبرونو کې ويل شوي چې په خوست کې سپکه اودرنده وسله مجاهدينو په غنيمت نيولې ده .

دخوست فتحه کيدل دمجاهدينو يوه داسې ستره سوبه اوتاريخي موفقيت دی چې دافغانستان مقاومت اوجهاد يو نوي اومتحرک پړاو ته ننباسي ، دفتحه کيدو بشپړ خبر اورپوټ به په بله گڼه کې په مفصله توگه خپاره کړی شي .

په گرجستان کې دمسلمانانو اوعيسويانو ترمنځ نښتې

خبري سرچينو له روسيې څخه رپوټ ورکړي چې دروسيې دگرجستان په ايالت کې دمسلمانانو اوعيسويانو ترمنځ سختې نښتې شويدي اوپدې نښتو کې په يو بل باندې دگرنيټو راکټونو ډزې وکړې چې پدې ترڅ کې ددواړو خواو نه يو شمير وژل شويدي .

په هند کې انتخاباتي مبارزې دوام لري

په هندکي دملي اسمبلي لپاره دمختلفو گوندونو ديو ځاي کيدو او دانتخابي مبارزو خبرونه اوريدل کيږي هرگوند دخپلي کمي لپاره لاس اوپښني وهي خو دهند صدراعظم چندر شيکهر ويلي دي چې تراوسه پورې زما گوند له چاسره ديو ځاي کيدو پريکړه نه ده کړي اونه ماته چاويلي . هغه زياته کړه چې دهند په پنجاب ، کشمير اواسام کې هم بايد دملي اسمبلي دټاکنوسره سره ايالاتي ټاکنې وکړاي شي خوداکار ددغو سيمو په امن اوامان پورې اړه لري .

فلسطينيانو د اسرائيلو په ضد مظاهره وکړه

حمل (۱۱) :

فلسطينيانو داسرائيلو ترکنترول لاندې سيمو کې داسرائيلو له خوادعربو دځمکې دقبضه کولو پرضد يوه مظاهره وکړه او ددغې ورځې ديادونې په لړکې يې پر اسرائيلو بدلويل.داسرائيلو اردو دغزيې په تړانگه اوداردن دسيند دلويديځې غاړې نورو ډيرو ښارونو کې په گرځيدو بنديز لگولې اوله يوه ميلون نه زيات خلک په کورونو کې ايسار دي هغو عربانو چې په اسرائيلو کې اوسيږي هم دغه ورځ دغونډو په ترڅ کې ولمانځله .

دفتحې مشال

فتحه فتحه يادومه مخکې ځمه

ملايکې به آمين وربانديې وايي

چې په مخکې مې دريږي نسکوريږي

انسانيت به ټول نفرين وربانديې وايي

*** ***

دبشر فساد ځپلي ژوندانه ته

دبهار په څير دنوي ژوند وړمه يم

چې له جبر ، زور اوظلم نه يې خلاص کړم

سترانسان ته دخلاصون هغه نغمه يم

*** ***

دقيام لاروي چې لاره ورکه نه کړي

زماوينې به يې مخې ته مشال شي

بس همدغه مې ارمان دی چې امت ته

شهادت زما په فتحه استقبال شي

شفيقي

دجهادهنداري جريده دخوست دجهادي خبرونو دژرترژره خپرولو په منظورپه مؤقتي توگه په اونۍ کې دوه ځله خپريږي .
گران لوستونکي دې خبروي